# د خدائي خدمتګار ادبي مکتب د ښځينه شاعرۍ موضوعاتي جائزه

# Thematic Analysis of Women Poetry in Khudai Khidmatgar Literary School of Thought

Dr. Tariq Khan*
Dr. Zafar ullah Bakhsali**

**Abstract:**

Khudai Khidmatgar movement was a socio-political movement that aimed to redevelop the Pashtun society, in the early 20th century. They give importance to the production of literature not just for the propagation of their narrative but to flourish their indigenous wisdom and aesthetics also.Khudai Khidmatgar provided a great space for Pashtun women in all their activities. Thus this in literature, particularly in poetry, we also found a considerable part of the Khudai Khidmatgar women, who focused on women issues and other dark aspects of their society. Herein this paper, we intend to highlight and thematically analyse women poetry of the movement.

**Keywords:** Khudai Khidmatgar, Pashto Modern Poetry, Thematic Analysis, Pashtun Women.

د پښتو ادب درجه بندي او دوربندي د خپل مخصوص تاريخي، سياسي، اقتصادي، کلتوري او عمومي ټولنيزو حالاتو په تناظر کښې د پښتو ادب څېړنکارانو او ليکوالانو کړې ده. د يو دور مطالعه د خپل مخصوص عصر مطالعه وي چې پکښې د هغه عصر د مخصوص ادبي رجحاناتو او مېلاناتو تر څنګ د ادبي اسلوبي، فنياو فکري شتمنيو په نظر کښې د ساتلو نه پس کېږي. لنډه داسې وئيلے شو چې د يو مخصوص دور د زمان او مکان په حساب ادبي مواد په باريک بينۍ سره د کتلو نه پس ادبي درجه بندي کېږي.د پښتو ادب معاصره دوره چې په جديده، اوسنۍ او معاصره دوره باندې پېژندل شي په شلمه پېړۍ کښې دوام مومي. اوسنۍ دوره په افغانستان او "پښتونخوا کښې د سياسي جريانونو د جلا والي په سبب يو شانته انکشاف نۀ کوي خو پېلامه ئې يو شانته ده."[1] اوسنۍ دوره د انګرېز د نو ابادياتو خلاف د مقاومت او مزاحمت پېړۍ بللے شو، په دې پېړۍ کښې که هر څو په افغانستان او خېبر پښتونخوا کښې د ازادۍ مبارزې

* Pashto Writer & Ex. Scholar of Pashto Department University of Peshawar, Khyber Pakhtunkhwa
** Chairman Department of Pashto Abdul Abdul Wali Khan University Mardan, Khyber Pakhtunkhwa

دوامدارې وي خو د دې تر څنګ په ادبياتو کښې انقلابي بدلونونه راتلل ځکه چې په شلمه پېړۍ کښې د پښتو ادبيات نۀ صرف په موضوعاتي حواله بلکې فني او هئيتي حواله باندې هم ډېره لويه شتمني په ځان کښې ځايوي. په دې پېړۍ کښې په پښتونخوا (خېبر پښتونخوا) د انجمن اصلاح الافاغنه (قيام ۱۹۲۱ء) او بيا ورپسې د خدائي خدمتګار تحريک (قيام ۱۹۲۹ء) غوندې د عدم تشدد په فلسفه او بنياد باندې ولاړ داسې ګڼ اړخيز سياسي تحريک رامنځ ته کېږي چې په خپل ذات کښې ئې داسې فکري او عملي شتمني درلوده، چې د خپل تنظيم د لارې ئې د قامي خپلواکۍ د پاره د خپلې ژبې او ادب، اقتصاد، مذهبي روادارۍ، هم اهنګۍ (سيکولر)، صنفي برابرۍ (Gender Equality) ماحولياتي شعور، اصلاحي او سياسي شعور په عام کولو کښې يو مهم او نۀ هېردونکے کردار تر سره کړے دے. خدائي خدمتګار تحريک يو ګڼ اړخيزه تحريک ؤ د دې تحريک د ادبي زيار په حواله فېصل فاران ليکي:

> "خدائي خدمتګار تحريک وقتي معروضاتو باندې هم خبرې کړې، مضامين او شاعري ئې کړې ده خو بل خوا تر اوسه د دې تحريک اغېزه په پښتو ادب را روانه ده. ډرامه، تکل، افسانه، سفرنامه، رپورتاژ، مقاله، تاريخ، تنقيد، تحقيق، غرض هر څۀ کښې د تحريک ليکوالانو کار کړے دے"[2]

د دې خبرې د مزيد تصديق د پاره که د پښتون مجلې (۱۹۲۸ء) پاڼې وګورو نو پکښې د جديد ادب د هر صنف مواد تر لاسه کولے شو."پښتون"رسالې په پښتو کښې د ساده نثر ليکنو او اصلاحي او سياسي شعر ليکلو ور پرانست. د دې مجلې په ليکلو کښې خپله خان عبدالغفارخان يو بهترين ساده نثر ليکونکے سياسي اصلاحي ليکوال ګڼل کېږي چې علاوه په سياسي تاريخ د پښتو په ادبي تاريخ کښې هم مهم ځاے لري."[3]پښتون رساله د خدائي خدمتګار تحريک يو مهم ارګان (Organ) ؤ په دې مجله کښې نۀ صرف د ساده نثر ليکلو دود عام کېږي بلکې په دې کښې اداريه نويسي چې باچا خان خپله ليکله بلکې د کالم نګارۍ، نثر نګارۍ تحريک هم وده مومي او هم شعري تخليقات هم منځ ته راځي."باچا خان د پښتو ژبې د اولين اداريه نويس او کالمسټ حېثيت تر لاسه کوي، ولې د پښتو ژبې د وړومبي رپورتاژ ليکونکي په توګه هم ادبي تاريخ کښې ليکلے کېږي. د پښتو

دا وړومبنے رپورتاژ د ډاکټر اسرار اتل د پي ايچ ډي څېړني له مخه، کومه چې هغهٔ په پښتو رپورتاژ کړې ده، د "شلمې پېړۍ تهذيب او زهٔ په جېل خانه کښې" دے چې "پښتون" رساله کښې ټوک وار خپرېدلے او بيا "زما ژوند او جدوجهد کښې" باچا خان "د جېل قصه" په سرليک پوره خپور کړے دے"[4]

د دې تر څنګ قيصه ايز ادب هم وده مومي. "د راحت زاخېلي وړومبۍ پښتو افسانه چې ۱۹۱۷ کښې ليکلې ګڼلې شي، د "پښتون" د جون ۱۹۲۸ په ګڼه کښې چاپ ده خو د راحت زاخېلي نه پس پښتو افسانه صحيح معنيو کښې ماسټر کريم افسانه کړه. د هغهٔ افسانې "دوه خدائي خدمتګار"، "د يتيم اختر"، "بيګار"، "ړنده باچاهي"، "بي بي بله خړۍ" او "د قربانۍ ګډورے" هم "پښتون" کښې خپرې شوې دي. د خليق او اکبر د ډرامو نه علاوه د رضا مهمندي ډرامې "شيشکه"، "منزل"؛ د ډاکټر افضل "ابغې نبغې" هم شاملې دي. پښتو ادب ته تکل هم "پښتون" رسالې راوړے، لکه د تماکو پانړه"، "ښهٔ استاد"، "مشر"، "خپله ژبه"، "هېر به مې نهٔ شي"، "سړي له څومره زمکه بس ده" دغسې طنز و مزاح کښې "پښتون" رسالې عبدالغني خان، مهدي شاه باچا او برق غوندې ليکوالان پېدا کړي دي"[5] پښتو افسانې ته د مير مهدي شاه مهدي غوندې مستقل افسانه ليکونکے ورکوي. چې پينځه افسانوي مجموعې ئې چاپ دي او دغه افسانوي مجموعې ټولې بيا زرين انځور په زيار "د مهدي داستاني کليات"1988 کښې د افغانستان د ليکوالو انجمن چاپ کړې دي. خدائي خدمتګار تحريک د پښتو ناول ته هم نظرياتي بنيادونه ورکوي. د حمزه شينواري ناول "نوې څپې" ئې واضح دليل دے. د دې سره دغه تحريک پښتو ډرامې ته هم ډېر څهٔ وبخښل د عبدالاکبر خان اکبر ډرامې، تعليم جديد، تهذيب جديد، خدائي خدمتګار، جونګړه،کاروان، د عبد الخالق خليق، خدائي خدمتګار، شهيده سکينه، خوږ ژوندون، فضل کريم د پېو، خدائي خدمتګار، د امير نواز جليا، درد، د فضل رحيم ساقي نه اجمل خټک و قلندر مومند پورې ډرامه ليکونکي ورکړي دي. د دې تر څنګ هم د دې تحريک غړي ارباب سکندر خان خليل، د فلسفې په حواله "فلسفه زړه او نوې" او اقتصادياتو نظريه غوندې مهم کتابونه د پښتو ادب څولۍ ته ورکړي دي. د تاريخ او تحقيق په مد کښې د عبدالاکبر خان روښانيان د مغلو تاريکيان، د قاضي عطاء الله د پښتنو تاريخ او د خان عبدالولي خان کتاب رښتيا رښتيا دي، د احمد کاکا او فضل الرحيم ساقي خدائي

خدمتګار تحریک په سفر نامه کښې د باچا خان زما د حج سفر، عبدالاکبر خان اکبر، د روسي ترکستان او افغانستان سفر نامه،د میا اکبر شاه د ازادۍ تلاش غوندې نمونې او بنیادي زیار شامل دے. د خدائي خدمتګارو ژوند لیکونه او تاریخ لیکنه او داسې نور نثري مواد هم شامل دي چې د اختصار د وجې ترې نه ډډه کوو.

د انجمن اصلاح الافاغنه د سیوري لاندې به مشاعرې کېدې او بیا به شاعرانو ته د هغوي د ډاډ په خاطر انعامات هم ورکول کېدل، چې مشهورې طرحې ئې څۀ په دې ډول وې "که زلمي چرې په خپل وطن قربان شي"، "که دې خیال د ازادۍ د خپل وطن وي"، "جنګ د ازادۍ له همېشه زلمي وتلي دي"، "که خازې شنې مې په قبر وې ولاړې"، "په کابل او پېښور کښې افغان یو دے"[6] د پښتو جدیدې شاعرۍ نه صرف بنیاد خدائي خدمتګار ږدي بلکې په دې ساحه کښې چټک ګامونه هم اخلي. پښتو جدیده شاعرۍ کښې د خدائي خدمتګار تحریک هڅې شریکې دي. هم د دغه تحریک فعاله غړي مولانا فضل محمود مخفي د پښتو جدید شعر امام ګڼلے شي."د پښتو معاصر ادبیاتو سر لاري که هغه په افغانستان کښې دي او یا په پښتونخوا کښې زیاترو د شعر په عنعنه ئې قالبونو کښې د عصر له غوښتنو سره سم نوي مفاهیم او مطالب ورځاے کړي دي. مګر مخفي مرحوم بیا ورسره دا ابتکار هم کړے دے چې د مضمون د نوي والي تر څنګ ئې د شعرونو د فورم د نوي والي ته هم هڅه کړې ده."[7] او داسې دغه روایت بیا مخکښې د تحریک سره تړلو شاعرانو شعوري او غېر شعوري توګه باندې مخکښې بوتلو. د خدائي خدمتګار تحریک ادبي ورکړې په هر صورت د یو مکتب دي. ولې د شاعرۍ په حواله باندې د دې تحریک شعري شتمني په لر و بر پښتون وطن کښې د خپل معیار او مقدار تر څنګ په موضوعاتي توګه باندې هم یو قوي کردار تر سره کړے دے. خدائي خدمتګار تحریک د ادبي زیار په حواله باندې نور الامین ایسپزے په خپل یو لیک کښې وائي:

> "د هم دغه قامي او ملي تحریک (نهضت) د خېټې نه چې کوم ادبي او علمي تحریک را برخېره شوے دے، زمونږ نقادان او پوهان ورته د "خدائي خدمتګار ادبي تحریک" نامه ورکوي ځکه چې د حضرت باچا خان د پښتنو شاعرانو او ادیبانو د رایو ورکولو او د قامي کاروان برخه جوړولو دغه عمل هم باقاعده یو شعوري او فکري عمل ؤ چې هغه ژبه چې شاعرانو او

ادیبانو ئې تل د قام د سترګو او دماغو کردار ادا کړے ؤ..... د پېرنګي خلاف د مبارزې لپاره قام ته د پوهه، قام پرست او ساهو قلمکارو ضرورت ؤ ځکه نو باچا خان هم د دغه روایتي کاروان نه شاعران او ادیبان را اوچت کړل او د قام په ملي مبارزه کښې ئې ورله د هر اول دستې کردار ورکړو"[8]

ددې دمره بحث نه دلته مقصد دغه ؤ چې پښتو ادب ته د خدائي خدمتګار تحریک*ورکړې په هر صورت مسلمې دي. او دا د شلمې پېړۍ د جدید ادب یو داسې کاروان ؤ چې د خپل سیاسي او ټولنیز خدماتو تر څنګ ئې پښتو ادب ته ډېر څۀ بخښلي دي او د دې حقیقت نه انکار هم نۀ شي کېدے. په شلمه پېړۍ کښې پښتو ادبیاتو ته کارکوونکي خلک یا خو د خدائي خدمتګار تحریک برخه وو او یا ئې د دې تحریک په سیوري او اثر کښې داسې ادبي خدمات تر سره کړي چې په فکري او موضوعاتي حواله باندې ئې هم د دغه تحریک بیانیه په مخکښې وړې ده. د دې تر څنګ د روماني او ترقي پسند مکتب سر خېل ادبي شخصیات هم د دې تحریک سره په یو نه یو حواله باندې تړلي شوي وو او یا د تحریک د اغېزلاندې پاتې شوي دي."په هر صورت د خدائي خدمتګار تحریک د پښتو ادب یو قوي تحریک او مکتب پاتې شوے دے چې اثر ئې تر نن پورې په ادبیاتو کښې لیدل شي. "په پښتو ادب کښې د خدائي خدمتګار تحریک ټول ارګانز (Organs) لکه انجمن اصلاح الافاغنه ، ازاد سکولونه او پښتون مجله هغه د یادونې وړ ډګرونه دي چې د سیاست او ټولنیزې اصلاح تر څنګ ئې د پښتو ادبیاتو په طرځ کښې اهم خدمتونه تر سره کړي دي. په خصوصیت سره د شعري ادب په حواله باندې د عدم تشدد د فلسفې د سیوري لاندې چې کوم قوم پرست، ترقي پسند ، رومانوي، بین الاملي منظر نامې ته کتنه،اصلاحي، اتفاق او یووالي غېر فرقه ورانه (سیکولر)او د خپلواکۍ او صنفي برابرۍ شعار او شعرونه وئیل شوي دي. هغه د شلمې پېړۍ د پښتو ادب یو ځانګړے باب او قوي رجحان جوړ شوے دے."[9] بلکې دا شعري روایت په خپل ځان کښې ډېره زیاته تنوع هم لري.

---

*په خدائي خدمتګار تحریک په عمومي توګه او په خصوصي توګه دې تحریک سره تړلي شخصیاتو باندې د بېلا بېلو ملکي او خارجي پوهنتونونو نه د ایم فل او پي ایچ ډي مقالې او ریسرچ ارټیکلز لیکل شوي. بلخصوص په پښتو ادبیاتو کښې پرې وړومبۍ د ایم فل(۱۹۸۵) او پي ایچ ډي (۲۰۰۴) دواړه مقالې پروفېسر ډاکټر عبدالوحید لیکلې دي.

خدائي خدمتګار تحریک چونکې یو ګڼ اړخیز تحریک دے په دې تحریک کښې پښتنو ښځو هم ونډه لرلې ده. بلکې په د سیاست او ادب په عملي مېدان کښې ئې سترې هم کړې دي. د پښتنو په وطن او ټولنه کښې د ښځینه سوال او د ښځو د حقونو مبارزه که څه هم په یو نه یو شکل کښې مونږ وینو او یا د تاریخ جبر دے چې د ښځو دغه کردار هغه تاریخي شواهد او مواد په تاریخ کښې نۀ لیدل کېږي کوم چې د هغوي ؤ. د تاریخ مسئله دا ده چې یا خو د شاهي دربارونو حال لري او یا بیا د سړیو او چې چرته د ښځو کردار دے نو هغه هم په انتهائي منفي شکل کښې بلکې دغه طرز عمل تاریخ ته ټوله په ټوله یو "نر واکه" بیانیه ورکړې ده. دلته مونږ دابحث پرېږدو او ځو دې خبرې ته چې د خدائي خدمتګار تحریک بیانیه د ښځو په حواله څۀ وه؟ او د ښځینه شاعرانو خپل کښ او مقدمه په شعري حواله باندې څنګه وړاندې کړې ده؟ خدائي خدمتګار تحریک د پښتنو په وطن کښې هغه تحریک دے چې د خپل ظهور سره سم ښځینه سوال هم د ځان سره را پورته کوي لکه چې خان زمان کاکړ لیکي:

> "د پښتنو په معلوم تاریخ کښې چرې هم مونږ نۀ وینو چې د ښځو کوم اولسي فعالیت له قامي تحریک څخه بېل په خپلواکه توګه واقع شوے وي، بلکې د پښتنو ملي نهضتونو د خپلې مترقي مخینې پر اساس اولسي ساحې ته د ښځو د ګډون په یقیني کولو کښې یو لړ لاس ته راوړنې لرلې دي. د پښتنو په تاریخ کښې په لومړي ځل خدائي خدمتګار تحریک قیام (۱۹۲۹) د ښځو د سیاسي او ادبي فعالیت موضوع سټریم لائن کړه. د خدائي خدمتګارانو د قام، قامي خپلواکۍ او قامي ریاست تصور نارینه (Masculine) نۀ ؤ.[10]

پښتون مجله کښې د دې خبرې خصوصي وضاحت کړے دے. چې کله هم د د ښځو د لیک خبره راځي نو باچا خان ورته بار بار خواست کوي چې ستاسو په مسائلو باندې خبره کول ضروري دي او کار په هر صورت ضروري دے. هم دغه وجه ده چې د ښځو اشتراک په خصوصي توګه خدائي خدمتګار تحریک کښې ډېر واضح ښکاري. په سیاست کښې ښځو شمولیت او اشتراک ونډه هم د خدائي خدمتګار تحریک په سر ده. باچا خان به وې چې "تر کوم وخت پورې چې د قوم ښځې رابېدارې شوې نۀ وي هغه قوم بېدار شوے نۀدے چې تر

کومه وخته پورې د یو قوم ښځې اوچتې شوې نهٔ وي هغه قوم اوچت شوے نهٔ دے کومه وخته پورې چې د یو قوم ښځې ملا تړلې نهٔ وي هغه قوم ازاد شوے نهٔ دے"[11] په خدائي خدمتګار تحریک کښې د ښځو مسلم کردار ؤ چې په یو صورت هم د نظره نهٔ شي غورځېدلے، دا تحریک د پښتنو په معلوم تاریخ کښې هغه کردار تر سره کوي چې د خپل دور په حساب باندې د خپل نوعیت همه انقلابي توکي په ځان کښې لري. د ازادۍ د تحریک په دور کښې چې کوم ښځینه شاعرانې خدائي خدمتګار تحریک کښې منځ ته راځي اوس راځو د هغوي د شعري تخلیقات ګورو. خدائي خدمتګار تحریک د خپل ظهور سره سم اول د انجمن اصلاح الافاغنه (قیام ۱۹۲۱) بنیاد ږدي چې د پښتنو د ټولنې د اصلاح سره سم د تعلیم و تربیت عمل شروع کوي. هم دغه وجه ده چې د ښځو پوره پوره اشتراک ورسره په دې کار کښې مل وي. ځکه خو د د دغه دور کښې د ښځینه تعلیم او بلخصوص په ښځینه تعلیم باندې ډېر زور راوړل شي،لکه چې نور جهان بېګم جهالت او ناپوهي کړې او د علمي جوهر خبره مطرح کوي او وائي:

یـــو باغبـــان ســـتا د دې بـــاغ حصـــمانه نـــهٔ کـــړي
تـــهٔ پـــه خپلـــه خـــوږ د دغـــې بـــاغ ثمـــر کـــړه
جهالـــت او نـــاپوهۍ دې کـــور بربـــاد کـــړو
تـــهٔ پـــه ځـــان کښـــې راپېـــدا علمـــي جـــوهر کـــړه[12]

د علم او پوهې د پاره یو بله لیکواله نګینه* په خپلو اشعارو کښې د تعلیم حق د سړي او ښځې د پاره یو هومره ضروري ګڼي او دا وائي چې ښځو باندې هم قومي خدمت فرض دے. او هم د دې کار د پاره دې خپل سړي مجبور کړي ځکه چې انساني معراج په خاطراو د پښتونخوا دا نیمه دنیا یعني ښځې د دې د جهالت د کوهي وځي لکه چې وائي:

پـــه ســـړي او ښـــځه یـــو شـــان علـــم فـــرض دے
هـــم پـــرې فـــرض دے یـــو شـــان قـــومي خـــدمت
هـــر ښـــځه دې خپـــل ورور او پـــلار مجبـــور کـــړي

*د ډاکټر وقار علي شاه کاکاخېل د څېړنې تر مخه فضل الرحیم ساقي به د نګینه په فرضي نوم باندې لیکل کول. خو ولې مونږ ئې د ښځینه مسائلو باندې د شعر کولو په صورت کښې د نظره نهٔ غورځوو.

هــــم خاونـــــد دې پـــــه ښــــه شــــان کــــړي ملامـــــت
چــــې زمـــــــونږه د تعلـــــيم انتظــــــام دې وکـــــړي
او پـــــه مــــــونږ کښــــې شــــي پېــــدا انســــانيت
د ســــــرحد نيمـــــه دنيــــا بــــــه شــــي ودانــــــه
پـــــــه کـــــــوهي ده پرتــــــــه د جهالــــــــت
عاقبــــت بــــــه کــــړي پــــرده د مـــــخ نـــــه لــــرې
نګينـــــــه چـــــــې کـــــــړي د ښــــــځو وکالـــــــت[13]

د خدائي د ظهور سره چې تعليم عمل د حق او تعليم د پاره هڅې شروع کېږي او د دې په حواله باندې چې کوم مهم پرمختګونه کېږي يا د دې د پاره که تش د "پښتون" مجلې پاڼې وګورو نو هم به پوره وي. په ټولنه کښې چې کوم متشدد نر واکه او فرسوده کلتور غوړېدلے ؤ د هغې په ضد باندې ئې عملي ګام واخستو هم دغه وجه وه چې د ښځو او سړو تر منځه کوم امتيازي سلوک (Gender Discrimination) روان ؤ هغه ئې په نخښه کړو. د خدائي خدمتګار تحريک سره اوړنده ښځينه شعري روايت کښې دغه روايت او غېر انساني عمل په تسلسل سره غندل کېږي.په دې اړه باندې په"پښتون " مجله کښې د نثري ليکنو سره سم سړو او ښځو شعرونه چاپ کېږي. په دغه طرځ کښې د خدائي خدمتګار تحريک يو موثره ليکواله سيده بشرٰي بېګم وائي:

څـه بـه جـواب کـړې کـه ايمـان پـه خـدا ے قيامـت لـرې تـه
د لـــور او زوي پـــه مـــنځ کښـــې فـــرق د محبـــت لـــرې تـــه
ځـــوي دې مالــک شــي د لکهونــو لــور محرومـــه پــاتې
دا يــــا پښـــتو ده د پښـــتو رســـم وغېـــرت لـــرې تـــه
خـــرڅ د تعلـــيم د زوي دې وکـــړو پـــه زرګونـــو روپـــو
پـــه لـــور تعلـــيم کـــول د پـــه خيـــال ســـره ذلـــت لـــرې تـــه
فائـــده بـــه ونـــه کـــړي يـــواځې د ســـړو پـــه تعلـــيم
کهخيـــال د قـــوم د ترقـــۍ او دعـــزت لـــرې تـــه[14]

د صنفي امتياز په طرځ کښې په ټولنه کښې فرسوده او ناوړه ټول ساخت کړي چې پکښې د لور او زوي تر منځ فرق او د لوښو حق تلفي کېږي. د تعليم او وراثت دوه بنيادي حقونه يادوي. حقيقت هم دا دے چې تعليم او تربيت سره د سرمايې ملکيت د ټولنيز ساخت نه واخله د ټولې نړۍ پورې يو خاص ذهنيت، رويه او د طاقت غرور جوړوي او چې کله دې کښې د ښځې استحصال وي"يوه ټولنه د پېترياکي ژورو کندو ته وغورځېږي نو د دې د رول اجتماعي قوت ارادي تحليل شي. داسې قسمه ټولنه بيا د محکوميت نه راوتو کښې اوږده موده لګوي ځکه چې دغلته بشريت او انسايت نيمګړے شي."[15]دا دومره کلتوري او ټولنيز ساخت او متشدد رويه درک کول ډېر لوي فکر او اپروچ غواړي. سيده بشرٰي بېګم د ښځو او سړو تر منځ دا غېر منصفانه رويه او چلند کړي. په دې حواله ئې په شعري مجموعه کښې ډېر نظمونه او شعرونه درک کولے شو. د خدائي خدمتګار تحريک سره اړونده يو بله شاعره او ليکواله الف جان خټکه د سړي او ښځې تر منځ توپير ته ډېر په دقيق او ځانګړي انداز ګوري ځکه چې چرته ټولنه کښې سخت نرواکه (Rigid Patriarchy) ساخت شتون لري نو هلته ښځه هيڅ انساني حق او حقوق نۀ لري. خو ولې دغه مفروضه ته په انتهائي نفيس انداز ګوزار ورکوي او وائي:

ښـــځې هـــم زړونـــه لـــري، زړو کښـــې خواهشـــات لـــري
ســـر کښـــې مازغـــۀ لـــري، مازغوکښـــې احساســـات لـــري
کـــاني خـــو نـــۀ دي هـــم دا ســـتا پـــه شـــان جـــذبات لـــري
ښـــۀ خيـــالات لـــري بلکـــې د تـــا هـــم زيـــات لـــري
دا بـــې ګنـــاه مرغـــۍ دې بنـــدې کـــړې پنجـــرې کښـــې ولـــې؟
وايـــه کـــړې ښـــځې دې ژونـــدۍ پـــه هـــديرې کښـــې ولـــې؟[16]

دا نکته انتهائي غور طلب ده چې ښځه زړۀ او مازغۀ لري او خپل احساسات او جذبات هم خو ولې په يو سخت نر واکه ټولنيز ساخت کښې د ښځو دا حق نۀ منل کېږي. دا د خدائي خدمتګار تحريک اصول وو چې د ښځو شناخت او د حق خبره ئې شروع کړه او هم ئې د ژوند په هر مېدان کښې د خپل ځان سره شريکې وګڼلې. د پښتنو په ټولنه کښې د ښځې د وجود، نوم او جسم د يو شجر ممنوعه په شان بدل کړے شوے ؤ او يا د نرانو په

واک او ولقه کښې ګنړل شوے ؤ. هم دغه وجه وه چې په پښتنو ښځو باندې ئې روايتي پرده تپلې شوې وه. هم د دغه فرسوده رواج په ضد د خدائي خدمتګار تحريک اواز پورته کړے دے.او هم په دې مد کښې د ښځو او ښځينه شاعرۍ ته داد او ډاډ هم ورکړے دے. د روايتي پردې په ضدباندې ډېر اوږد نظم الف جان خټکې ليکلے دے چې دلته ترې د اختصار په نيت صرف يو دوه درې شعره بطور بېلګه نقل کولے شي:

داســـې پـــرده د زنانـــه "زنانـــه پـــن" زيـــاتوي
ضـــعف د بـــدن زيـــاتوي وېـــره د دښـــمن زيـــاتوي
ســـتا او زمـــا پـــه شـــان بيمـــار لونـــه زامـــن زيـــاتوي
خوشـــى تعـــداد د تيـــار خـــورو پـــه وطـــن زيـــاتوي
نـــن د بېکـــارو خلقـــو ځـــاى پـــه مـــخ د مزکـــې نشـــته
دې بجلـــي ګهـــر تـــه ضـــرورت د اوربلکـــې نشـــته[17]

هم دغه وجه ده چې په دې نظم الف جان خټکې ته پينځويشت روپۍ انعام ورکړل شوے ؤ. هم دغه تسلسل کښې د روايتي پردې په ضد باندې سيد بشرٰي بېګم په يو نظم کښې خپل نظر داسې ښرګند کړے دے:

مـــا پـــه ايـــران، مصـــر، عـــراق، ترکـــو کښـــې ونـــۀ ليـــده
دا رواجـــي پـــرده د لاســـو پښـــو زنځيـــر دے زمـــا
چـــې پـــه تبـــاه حـــال د پښـــتون مـــې نظـــر وکـــړو پـــه غـــور
پښـــتونه ســـتا د تنـــزل اســـباب تقصـــير دے زمـــا[18]

د خدائي خدمتګار تحريک د بېدارۍ دا عمل دغلته نۀ ودرېږي بلکې دا نور هم مخکښې ځي او ټولنې کښې موجود جهل او فرسوده رسومات په تواتر سره غندل کېږي او د ټولنيزې اصلاح عمل توان مومي د پښتنو ښځو په حالت زار او دنيا د سره پرتله کولو په اړه باندې ممتاز بېګم په خپلو شعرونو کښې وائي:

اے پښـــتونه! ډېـــر ســـاده يـــې وايـــه، وايـــه دا پـــه ځـــۀ؟
جهالـــت کښـــې مبـــتلا يـــې دا پـــه ځـــۀ؟
نـــن چينيـــان کـــه جاپانيـــان دي د ترقـــۍ پـــه لار روان دي

تـــهٔ ښـــکته مـــونږه بيـــايې وايـــه، وايـــه دا پـــه څـــهٔ؟[19]

خدائي خدمتګار تحريک سره اړونده ښځينه شعري روايت ښځينه مسائلو ته نور هم په باريک بينۍ ګوري د ژوند د ملګري سوال يعني د وادهٔ خبره د ښځې او سړي يو شان حق دے مګر دا خبره چې کله ښځو ته راشي نو واک د سړي يا د کورنۍ د نورو وګړو وي. په دې حواله باندې الف جان خټکه په خپل يو نظم کښې وائي:

د نـــــيلام بـــــولۍ چـــې چـــا وکـــړه اوچتـــــه
بيـــــا د خـــــرهٔ او اس نـــــهٔ لګـــــوئ پتـــــه
د شـــپېتو کـــالو بـــوډا تـــه چـــې زړهٔ ښـــهٔ کـــړې
نـــوې پېغلـــه لـــور دې هغـــه تـــه وادهٔ کـــړې
لـــه هغـــې خـــوارې نـــه هـــيڅ تپـــوس ونـــهٔ کـــړې
پـــه قيامـــت بـــه د دې ظلـــم جـــواب څـــهٔ کـــړې؟[20]

د پېسو ټکو د پاره يا د زوړ عمر نه تر "سورې" پورې بد رسوماتو د پښتنو په ټولنه کښې شتون درلودو چې د دې په ضد باندې ښځو په يو نه يو حواله خپل مزاحمت او احتجاج ريکارډ کړے دے. (بلکې په اولسي ادبياتو کښې خو دا روايت ډېر زوړ او زورور دے) د دغه فرسوده رواج په اړه باندې د خدائي خدمتګار تحريک نمائنده شاعره سيد بشرٰي بېګم په خپل يو نظم "د پښتنې لور ګيله" کښې داسې وائي:

مـــا چـــې کـــړه خپلـــه مرضـــي وقـــف ســـتا د رضـــا د پـــاره
تـــا قربـــاني کړلـــه زمـــا خوشـــي د چـــا د پـــاره ؟
دا دې بـــې شـــک چـــې مـــور او پـــلار وي مهربـــان لـــه هـــر چـــا
ولـــې بـــې ســـوچ مهـــر دې شـــه افـــت زمـــا د پـــاره
د لـــور او زوي پـــه درد دردېـــږي مـــور او پـــلار همېشـــه
زمـــا خـــراب ژونـــد بـــه تکليـــف شـــي اخـــر ســـتا د پـــاره
لکـــه ښـــاروے دې بـــې تپوســـه حوالـــه کـــړم د بـــل
هـــيڅ د ارام کوشـــش مـــې نـــهٔ کـــړې د ســـبا د پـــاره
پښـــتو د کفـــر دے زنـــار دا مشـــهور متـــل دے

د جینکـــــو خاموشـــــي وي د دے حیـــــا د پـــــاره
د دوو کســـانو همخیـــالي ورومـــبے شـــرط دے ضـــرور
ګـوري هـر خیـال تـه خپـل هـم خیـال د ژونـد همـرا د پـاره
لـــه ښـــو اخلاقـــو نـــه قربـــان شـــه د قـــارون خزانـــې
د دولتمنـــد انتخـــاب مـــه کـــوئ د چـــا د پـــاره
دا د دوو کســـو د ژونـــدون تـــړون دے داســـې تـــړون
چې په هـیـڅ جـوړ تـرې خلاصـېدے نـهٔ شي صبا د پـاره[21]

د خدائي خدمتګار تحریک یو موخه دا وه چې ځائي صنعت ته وده ورکړل شي او په ځائي توګه دې د وطن د خلکو مالي حالت ښهٔ شي او هم د پېرنګي اقتصاد ته ضربه ورکړي. بلکې په ټول هندوستان کښې د څرخې کلتور وده موندلې وه او هم په خپله باچا خان د کدې کار ته ملا تړلې وه. د دې خبرې په شا ئې غرض دا ؤ چې د خلکو پام خپل اقتصاد ځائي وسائلو او د کسب ګرو قدردانۍ ته راواړوي. په دې حواله باندې ښځې هم په دې کار کښې مخکښې مخکښې وې د دغه وخت یو مشهوره ټپه څهٔ داسې وه چې:

د خوښدو دغه مدد بس دے
چې د پردي وطن جامې دې ترکې کړينه[22]

د خدائي خدمتګارو په نظر کښې د ځائي اقتصادیو مهم پلان موجود ؤ. بلکې دا وئیل به هم بې ځایه نهٔ وي چې د وطن په ازادي کښې ئې اقتصاد مهم کار بللو لکه چې نګینه ورته په خپل یو نظم کښې په دې ټکو اشاره کوي:

د وطـــن جـــولا بـــه ګېـــډه بانـــدې مـــوړ شـــي
د خامتـــا نـــه خپلـــه پاکـــه لمـــن وکـــړه
ترقـــي پـــه خپلـــو متـــو بانـــدې کېـــږي
تـــف لعنـــت پـــه رخـــت اســـباب د دشـــمن وکـــړه
شـــاه زلمـــي بـــه تویـــوي پـــرې خپلـــې وینـــې
تـــه څرخـــه بانـــدې خـــدمت د وطـــن وکـــړه
د خامتـــا د اغوســـتو پـــه بدلـــه کښـــې

خــــوري! ســــېل د ازادۍ د ګلشـــــن وکـــــړه[23]

د ښځو په ځائي اقتصاد کښې مرسته د خدائي خدمتګار تحريک همه پېغامات هم په شعر کښې مخې ته راځي بلکې په دغه وخت کښې د ټولنيزې اصلاح او يو موټے کېدلو چې کوم درس ؤ هغه هم په ښځينه شعري روايت کښې مخ ته راځي. دا موضوع د ښځينه شاعرۍ برخه وه او قامي خپلواکۍ د پاره لازم وه چې قام کښې دې اتفاق وي. لکه چې امنه بېګم په خپل يو نظم کښې د اتفاق خبره څۀ په دې ټکو کښې کوي:

امیـــد شــــته د پښــــتنو پــــه ترقـــۍ کښــــې
کــــه کوشــــش وشــــي پــــه زور د اتفـــاق
پــــه اخـــلاص د کمیـــا بـــوټے پېـــدا کېـــږي
ورپســــې شـــئ پــــه اس ســـور د اتفـــاق
پښــــتانۀ بـــــه تـــــر کمالــــه ورســـېږي
کــــه ډوډۍ وخــــوري پـــــه شــــکور د اتفـــاق[24]

د پښتنو د يو والي او د د دې تر څنګ د قامي ازادۍ او خپلواکۍ شعارونه او موضوع هم د خدائي خدمتګار تحريک د شعري روايت بلخصوص او د ښځينه شعري روايت بلعموم يو قوي رجحان او موضوع پاتې شوه ده. الف جان خټکې تر ټولو مقبول شعر څۀ په دې ډول دے:

تـــۀ ئـــې پښـــتون او پښـــتانۀ پـــه پښـــتو ښـــۀ ښـــکارېږي
ټينګـــــه پښــــتو کــــړه د زړو پښــــتنو شـــان وګټــــه
د الـــــف جـــــان د زړۀ ارمـــــان دے مکمــــل ازادي
ورور مـــې شـــه ځـــه د خپلـــې خـــور دغـــه ارمـــان وګټـــه[25]

خو ولې د ازادۍ دغه خوب نۀ خو الف جان او نۀ خدائي خدمتګار تحريک د ښځو بغير پوره او مکمل ګڼلو ځکه چې په دغه دور کښې ښځې په عملي توګه د تحريک برخه شوې وې "د ښځو جلسه وشوه په زرګونو ښځې ورله راغلې وې او ماله ئې سپاسنامه هم راکړه او تقريرونه ئې هم وکړل په دې زۀ خوشحاله شوم ولې چې بغېر د ښځو نه يو قوم ترقي کولے نۀ شي ولې چې زمونږ د کور او بچو ټول پرورش د هغوي په لاس کښې دے"[26]

مخکښې په خپل ژوند لیک زما ژوند او جدوجهد کښې عبدالغفار خان (باچا خان) زیاتوي :

> ما د هشتنغر او د دواوې دوره شروع کړه او خلک مې د خدائي خدمتګارۍ په تحریک پوهه کړل. زۀ په دې ډېر خوشحاله شوم چې د هر کلي په جلسه کښې ډېرې ښځې شریکېدلې خو د تنګي په جلسه کښې چې مې د ښځو زور ولیدو نو زړۀ مې باغ باغ شو۔ ځکه چې زما دا عقیده وه چې یو قوم هله ترقي کولے شي چې د هغوي سره ښځې اوږه په اوږه لکه د ګاډې د دویمې پایې روانې شي۔ الله تعالٰي شکر مې ادا کړو چې زمونږ خوارۍ ځاے ونیوۀ او چې زمونږ زنانه رابېدارې شوې نو ډېر امېدونه مې پېدا شول چې که خېروي اوس به زمونږ قام ترقي وکړي۔[27]

دا هغه دور دے چې د سید بشرٰي بېګم دا سندره ډېره زیاته مقبوله شوې وه چې "مونږ جینکۍ مېدان ته ځونه!" هم دغه وجه وه چې په خدائي خدمتګار تحریک کښې د ښځو اواز تش ښځینه مسائلو ته محدود پاتې نۀ شو بلکې "په 1946 کښې له خدائي خدمتګار تحریک سره تړلو ښځینه لیکوالو د "ټولنیزو اصلاحاتو" او "مثالي ښځو" تر مخکښینو موضوعاتو پورې ځان محدود ونۀ ساتۀ بلکې د وخت پر تودو سیاسي موضوعاتو ئې په نبغ او څرګند ډول لیکل پېل کړل"[28] د خدائي خدمتګار ګار تحریک د پېل سره د غازي امان الله خان نه د پښتنو د قامي خپلواکۍ، تر د هند وېش او بېن الاملي منظر نامې پورې هم نېغ په نېغه سوچه سیاسي معاملات هم د خدائي خدمتګار ادبي مکتب کښې د ښځینه شاعرۍ برخه شوي دي. د غازي امان الله خان د حکومت په ړنګېدو باندې مېرمن بي بي امنه یو اوږد نظم لیکي چې پکښې د انګرېز سازش، د پښتنو افغانانو بې مروتي او د غازي امان الله خان د حکومت نه په لر کېدو یو زبردست رد العمل ښائي:

د عــــزت پـــه کـــور دې ختـــې خـــړ ســـېلاب دے
لــــوي خطـــر دے پکښـــې ســـتا د مـــال و جـــان
غـــور دې وکـــړه د خپـــل ځـــان نـــۀ شـــې خاموشـــه
نـــۀ چـــې شـــې تـــۀ پـــه بـــاقي عمـــر پښـــېمان

چـــــې باچـــــا امـــــان الله د تختــــه کـــــوز شــــۀ
ډېـــــر افســـوس چـــې قـــلار ناســـت دي افغانــــان[29]

"ځومره مرسته هم چې په يو مستعمره کښې د باچا خان له انقلابي نهضته ځخه ممکنه وه هغه ئې د امان الله خان په حق کښې ونۀ سپموله. د اولسي موافقې، جلسې، چندې او درملنې چې ځومره امکانات هم هغوي درلودل، د امان الله خان د انقلابي دولت د پاره ئې په کار راوړل"[30]د دې نه ورته چې نور سياسي او ټولنيز حالات بدلېږي او دا سفر تر ۱۹۴۲ پورې را رسي نو بيا د انګرېز او مسلم ليګ په پاليسو او سياست هم نظر ساتي او خپل هغه بنيادي نظرياتي موقف وړاندې کوي کوم چې د خدائي خدمتګار تحريک په غېږ کښې تربيه شوے ؤ. هر کله چې د هندوستان حالات متشدد رنګ اخلي نو الف جان خټک بيا د خپل "سيکولر" نظر ځرګندونه ځۀ په دې ټکو کښې کوي:

زمــــــا زخـــــــم د مرهمـــــــو طلبګـــــــار ؤ
نـــــيم حکـــيم ورلــــه پــــه لاس کښــــې نشـــتر راوړو
کلکتــــې کښــــې بـــې ګنـــــاه خـــونرېزي وشـــوه
د ليګيــــــانو تقريرونــــــــو ثمــــــــر راوړو
د تعميـــــر پــــه ځــــاے تخريــــب سياســـت نـــۀ دے
د چرچــــل پــــه شــــرارت ئـــې دا شــــر راوړو[31]

په نا وېشلي هندوستان کښې چې کله هندو مسلم فرقه ورانه شخړې تودېږي نو (Cabinet Mission Delegation) هندوستان ته راځي او د وېش خبره کوي نو هم د خدائي خدمتګار تحريک سره تړلي مبېرمن الف جان خټکه ورته په خپل يو نظم کښې داسې اشاره کوي:

نـــــادان هندوســـــتان پېرنګــــي بيــــا وغولــــول
مــــا ټوقــــه وه ګڼلــــې دۀ رښــــتيا وغولــــول
درې کســـــه مــــداريان لــــه ولايتــــه وو راغلــــي
هنـــدو، سکهـــ، مســـلمان ئـــې د انـــډيا وغولـــول
خـلاف ئـې د مـذهب پـه نـوم پيـدا کـړو هندوسـتان کښـې

نــــــن دې و حـــــــرم دواړه کليســـــــا وغولــــــول[32]

د هند وېش او داسې نور شيان چې په عمومي توګه باندې د پښتو شاعرۍ د هغه وخت قوي او مهم رجحات وو هغه په ښځينه شعري روايت کښې هم شتون درلودو. لکه اتحاد و اتفاق، قومپرستي، د ښځو سره د سړيو قومي تحريک ته هڅونه او سياست کښې برخه اخستل او نور د ټولنيزې اصلاح غوندې موضوعات شامل وو. د خدائي خدمتګار تحريک د ظهور سره چې ښځو کښې کومه بېداري راغلې وه نو هغه نۀ صرف په ټولنيزه توګه باندې ليدل شي بلکې په سياسي او شعري روايت کښې هم لکه د دغه تحريک د سړيو ليکوالانو او شاعرانو غوندې ليدل شي. د خدائي خدمتګار تحريک په ادبي مکتب او شعري روايت کښې چې عمومي موضوعات لکه، جهل غندنه او په علم باندې زور اچول، د دې تر څنګ د ښځې او سړي يو شان تعليم او تربيت، د ښځو د حق او ملکيت دعوه مطرح کول او زور پرې راوړل، د ښځې د مساوي او يو شان والي او شريک مزاحمت کولو بيانيه په مخه وړل او هغه په دلائيلو باندې واضحه کول،په ښځو باندې د غېر انساني او غېر بنديزونو غندونه او د روايتي پردې خلاف مزاحمت کول، د ښځو وادۀ او ورسره د ښځې نه د وادۀ په اړه باندې پوښتنه او خوښې نا خوښې مضمون مطرح کول. د ځائي صورتحال سره سره په بېن المللي منظر نامه باندې نظر ساتل او جنګ غندنه، د افغانستان په صورتحال نظر ساتنه او هلته د اولسواکۍ (جمهوريت) طرفداري او د ځائي او بېن المللي جنګي کردارونه غندل، اقتصاد ته پاملرنه او ځائي اقتصاد ته وده ورکول، د پښتنو اتفاق او اتحاد ته پاملرنه او زور پرې راوړل او د دې تر څنګ قام پال فکر ته دوام بخښل، ازادي او خپلواکي غوښتل، د هند د وېش ته سياسي او د خپل ځائي سياست او جهاني نظر کتل، د دې تر څنګ غېر فرقه ورانه، سيکولر فکر ته دوام بخښل او تنګ نظرۍ، رجعت پسندي او فرقه ورانه فکر کړل شامل دي. د دې نه مونږ په دې نتيجه رسو چې خدائي خدمتګار تحريک د خپلو نورو اړخونو نه ورته يو ادبي مکتب او ځانګري شعري موضوعات لري چې په عمومي توګه باندې د دوي په ټولو ليکنو او ليکوالانو کښې ئې مونږ وينو او د دې سره ئې د ښځينه ليکوالو په ليکنو او شعري روايت کښې هم وينو. د خدائي خدمتګار او د دې په تاثر کښې د ښځينه شعري روايت د نورو موضوعاتو نه ورته يوه ځانګړنه دا ده چې ښځينه سوال او ښځينه مسائلو ته ئې خصوصي پاملرنه کړې ده او

دغه خبرې ئې د يو خاص ټولنيز، سياسي، معاشي او صنفي تناظر او ساخت په رد عمل کښې کړي او عام کړې دي.د دې سره ئې ښځينه سوال په يو داسې شکل کښې مطرح کړو چې نن هم د خپل حساب او نوعيت په حواله باندې يو ځانګړے رنګ لري بلکې دا سوال د خدائي خدمتګار تحريک په برکت يو پښتون فېمنسټ (feminist) رنګ او بيانيه ده، چې په پښتني سياسي تاريخ او ادبي روايت کښې د خدائي خدمتګار تحريک ورکړه ده.

# حوالې/ماخذونه:

[1] روهي، محمد صديق، د پښتو ادبياتو تاريخ (دويم ټوک)، پېښور، د دانش خپروندويې ټولنې تخنيکي څانګه، دويم چاپ، ۲۰۰۵، مخ، ۴۱/۴۲

[2] فاران، فېصل، پښتو قامي شاعري، ادب او خدائي خدمتګار تحريک، مشمولهمياشتنۍ پښتون، پېښور، اپرېل ۲۰۲۰، مخ، ۴۴

[3] حبيبي، علامه عبدالحی ، د پښتو ادب لنډ تاريخ، کندهار، علامه رشاد خپرندويه ټولنه، ۲۰۰۸، مخ، ۲۰۹

[4] فاران، فېصل، پښتو قامي شاعري، ادب او خدائي خدمتګار تحريک، مشموله پښتون، پېښور، مخ، ۳۸

[5] همدغه، مخ، ۴۱

[6] همدغه، مخ، ۴۰

[7] سر محقق، هېواد مل، زلمے، فر هنګيالے مبارز مولانا فضل محمود مخفي، د افغانستان ملي تحريک، فرهنګي څانګه، چاپ کال، ۱۳۹۳ هـ ش، مخ، ۷۷

[8] يو سفزے، نورالامين، پښتو ژبې او ادب ته دخدائي خدتګار تحريک بخښنې، مشموله پښتون، پېښور، اپرېل ۲۰۲۰، مخ، ۴۹-۵۰

[9] خان، طارق، په پښتو جديده شاعرۍ د عدم تشدد اثرات (يوه تحقيقي او تنقيدي جائزه) [پي ايچ ډي تحقيقي مقاله]، پښتو څانګه پېښور پوهنتون، سېشن ۲۰۱۴-۱۵، ناچاپ، مخ، ۹۰

[10] کاکړ، خان زمان، ښځينه سوال او الف جان خټکه، مشموله، پښتون اکتوبر ۲۰۱۹، مخ، ۳۹

[11] کاکاخېل ، سيد وقار علي شاه ، پښتنې ښځې او د قام خدمت ، پېښور، ګل زمان پرېس ، اول چاپ، ۲۰۱۲ء ، مخ ۳۲

[12] همدغه، مخ ۱۴۹

[13] همدغه، مخ، ۱۵۵

[14] بېګم ، سیده بشرٰي، زېرے، پېښور، یونیورسټي بک ایجنسي، چاپ کال- ۱۹۵۲، مخ، ۱۱۵

[15] حسېن، خادم، فېمنزم او خدائي خدمتګار تحریک، پېښور، مشموله پښتون، اکتوبر- ۲۰۱۹، مخ، ۳۵

[16] هم دغه، مخ ۳۵

[17] همدغه، مخ، ۴۳

[18] بېګم ، سیده بشرٰي، زېرے، مخ ،۱۸

[19] کاکاخېل ،سید وقار علي شاه ، پښتنې ښځې او د قام خدمت،مخ، ۲۱۱

[20] همدغه، مخ، ۲۲۰

[21] بېګم ، سیده بشرٰي، زېرے،مخ، ۱۱۷

[22] کاکاخېل ، سید وقار علي شاه ، پښتنې ښځې او د قام خدمت ،مخ،۱۸۳

[23] همدغه، مخ، ۱۲۵

[24] محمد ، حنیف، په پښتونخوا کښې ترقي پسند تحریک او د پښتو ترقي پسندۍ شاعرۍ تحقیقي او تنقیدي جائزه (۱۹۲۰-۱۹۴۷)، کوئټه، غرنوي کتاب پلورنځے، چاپ کال، ۲۰۱۴،مخ، ۴۱۵

[25] کاکاخېل، سید وقار علي شاه، پښتنې ښځې او د قام خدمت، مخ، ۲۲۳

[26] خان ، عبدالغفار خان ، زما ژوند او جدوجهد ، امن پرنټنګ پرېس پېښور ، دویم ځل ، ۲۰۱۲ ،مخ ۳۵۹

[27] همدغه، مخ، ۳۳۱

[28] کاکاخېل، سید وقار علي شاه، بحواله، کاکړ، خان زمان، پښتني لیډلورے، پېښور، امن پرنټنګ پرېس،جنوري ۲۰۲۰، مخ،۶۸

[29] محمد ، حنیف، په پښتونخوا کښې ترقي پسند تحریک او د پښتو ترقي پسندۍ شاعرۍ تحقیقي او تنقیدي جائزه (۱۹۲۰-۱۹۴۷)مخ، ۴۱۶

[30]کاکړ، خان زمان، پښتني لید لورے، مخ، ۳۰

[31]مشموله پښتون، اکتوبر ۲۰۱۹، مخ، ۷۸-۷۹

[32]همدغه، مخ، ۳۲-۳۳

## References:


[1] Rohi, Muhammad sadeeq, da pukhtoadbyatotarekh, 2nd vol, Peshawar, Danish khprandoyatolanetakhnekisanga, 2nd edition, 2005, P. 41,42

[2] Faran, Faisal, Pakhtoqamishaire, adab aw khudai khidmatgar tehreek, Peshawar, monthly Pashtun, April 2020, P.44

[3] Habibi, allama abdulhai, da pukhto adab land tarekh, Kandahar, allama rishd khprandoya tolana, 2008, P. 209

[4] Faran, faisal, Pakhtoqami shaire, adab aw khudai khidmatgar tehreek, Peshawar, monthly Pashtun, P. 38

[5] Ibid, P. 41

[6] Ibid, P. 40

[7] Sir muhaqiq, Hewadmal, zalmy, farhangyaly mubariz mulana fazal-e-mehmod, da Afghanistan mile tehreek, farhangi sanga, 1393, P. 77

[8] Yousafzai, Noor-ul-ameen, pukhto zhabi aw adab ta da khudai khidmatgar bakhani, Peshawar, monthly Pashtun, april, 2020,P. 49-50

[9] Khan, tariq, pa pukhto jadeda shairae da adm tashdud asarat (tehqiqi aw tanqidimutalia) nachap, Session 2014-15, P. 90

[10] Kakar, khan zaman, khazeena swal aw alaf jan khattaka, Peshawar, monthly Pashtun, October 2019, P. 39

[11] Kakakhel, sayad waqa rali shah, pukhtani khazi aw da qam khidmat, Peshawar, gul zaman press, 1st Edition, 2012, P. 36

[12] Ibid, P.149

[13] Ibid, P.155

[14] Begam, Sayyeda Bushra, zery, Peshawar, university book Agency, 1956, P. 115

[15] Hussain, khadim, feminism aw khudaikhidmatgartahreek, Peshawar, monthly Pashtun, October 2019, P. 35

[16] Ibid, P.35

[17] Ibid, P.34

[18] Begam, Sayyeda Bushra , zery, P. 18

[19] Kakakhel, Sayad waqar ali shah, pukhtni khazi aw da qam khidmat, P. 211

[20] Ibid, P.240

[21] Begam, Sayyeda Bushra begam, zery, P. 117

[22] Kakakhel, Sayad waqar ali shah, pukhtani khazi aw da qam khidmat, P.183

[23] Ibid, P. 165

[24] Muhammad, Hanif, Pa pakhtunkhwa ki taraqi pasand tehreek aw da Pakhto taraqi pasandi shairy tehqiqi aw tanqidi jaiza (1920-1947), quetta, ghaznawe, kitab ploranzay, 2014, P.415

[25] Kakakhel, sayad waqar ali shah, pukhtni khazi aw da qam khidmat, P:223

[24] Khan, Abdul ghaffar, Zama jwand aw jadojihad, Aman printing press, Peshawar, 2nd Edition, 2012, P.359

[25] Ibid, P.331

[26] Kakakhel, Sayyad waqar ali shah, bahawala, kakar, khan zaman, pukhtani ledlory, Peshawar, aman, printing prees, January, 2020, P. 68

[29] Muhammad, hanif, pa pakhtunkhwa ki taraqi pasand tehreek aw da pakhtotaraqi pasandi shairy tehqiqi aw tanqidi jaiza, (1920-1947) P. 416

[30] kakar, khan zaman, pukhtaniledlory, P;30

[31] monthly Pashtun, October 2019, P; 78-79

[32] Ibid, P. 32-33